لیکوال: پوهنیار ظفرخان « اهتمام » نېټه ۲۰۱۰-۱۱-۲۳

# سُـــنـــتـــي

**هغه!** لکه پخواهماغه پخوا چې زه څلورکلن وم . نن هم چې زما ورور دڅلورنیمو کالو ؤموږخپل کورته رابللی ؤ دمني تودې شپې دي خلک عمومًا په بلیو او دالانوکې اوسېږي خود کلا په انګړ کې هم شپه ښه تېرېدای شي، ورځ ده مور ټول ماشومان اوغټان سترګې په لاره په دالان کې ناست یوو هاغه دی هغه را ورسید لومړی یې له خندا څخه په ډکه خوله له ټولوسره سترې مه شي وکړل بیایې شاوخواته سترګې وغړولې د دالان چت یې هم وکتلې او له ځان سره موسکی غوندې شو.

شېبه پس په خپل ټاکل شوي ځای کېناست په ښي لاس یې د چپ ټـټـرپه سرد واسکټ دلاندیني جیب څخه په تورو تېلو غوړ چرمي بکس راوایستلو په بکس کې یوه دکړکې نېچه وه دنېچې یوه خوا تر بنده پورې دړه شوې وه خودوه پلې نه وه، بل شی د رمجرومې د صلاحي په څېرخوله صلاحي څخه درې چنده غټه او اوږده د ښوون د لرګي صلاحي، یوه تېره چاړه ، لږ څه سپین ټو کر، پنبه، په ښیښه یي بوتل کې د کندهر ساخت ګل والا «واسلین»، ګوګرد، او د دوایې د جوړېدو مواد ؤداټول موږهغه وخت ولیدل چې ده! د خانک څنګ ته په خپل ځادرکتارکېښودل. ختین خانک موږ مخکې لیدلی ؤچې د دالان په غولي کې دهغه نه لاندې په کڅوړه کې غوځان او د پټا سوډک وریښمین دستمال ایښودل شوی وو موږ په هر څه پوهېدو، خوماشوم له هغه څه څخه چې چې اوس پېښېدونکي ؤخبرتیا نه درلوده، دشاوخوا ګاونډ او چم کورونوهلکان او کوچنۍ نجونې موږ کره راغلې وې زموږ ددېوال شریک ګـاونډی، زندی څلور نیم کلنه لور چې خپل ورورته یې ملا کړو په نېولې وه اوهغه لکه شینی دتل په څیر پرې نښتی ؤهم راغلې وه ټول د خنک خواته څیرؤټکی په ټکی یې دخلیفه د کار بهیر څاره سره له دومره ګڼې ګوڼې چوپتیا خپره وه.

هغه زمایوازیني وروړته غږ کړ راشه بچیه! او لدې سره سم یې دخانک په لورد سراو څېک په غورځولواشاره وکړه دخنک له پاسه یې د دکېناستلو بلنه ورکړه دلته کینه تاته بیا مېمې درکوم ښه!!

دکلي خلیفه (سلماني) دکلیوالي ژوند ډاکټرؤ واړه جراحي کارونه، دښکر او کډو لګول، دغاښونو ایستل، سُنتي د بوغموڅیرول د هډوکو پرځای او چچـه کول څارویو ته د دوایي جوړول او نور یې د دندې څخه ګڼل کېدل.

خلیفه اوس خپل عملي کار داسې پیل کړ: ستاسو ټولو تر مخه مې دې ډېره حیا وي! سره له دې چې داد یوماشوم د سُنتي خبره ده هغه هم د اسلامي شریعت د یو رکُن د پرځای کولو دکار ټوګه او کیسه چې ډېرې مسلمانان او هِندوان ترې ناخبره دي، خومخکې له مخکې مافي او بخښنه غواړم!!

خلیفه د صلاحي تېره څوکه د ماشوم د«خوپه» په سر د پړاته پوست په یوه څنده ومنډ له، بیایې ګر دچارپیره څوڅو ځلي ښي او چپ ته داسې وڅرخوله لکه په هواکې چې څوک دلاس په حرکت افُقي خیالي دایره رسموي، وروسته یې پوست د ځان په خوا کش- کش کړاو تر پوستکي لاندې نازکه څوکه یې بیرته په شا ټېله کړه اوکش شوی پوست یې د کړکي د نېچې په ترق کې کلک ونېوؤ سمدواره یې د دالانه په چت کې د ستنکې خولې ته وکتل او ویې ویل:آوهو! د دتوتـکیوځاله اوبچي ؤګورئ!

دې خبرې سره ټولوراغلو ماشومانواو اوسُنتېدونکي هلک باس وکتلې، خلیفه په ټوله چالاکۍ دچړې خوله خلاصه کړه او پوست یې غوڅ کړ د مبارک مبارک په ویلو یې ژر ژرد سوزیدلي نخي ټوکرتوده ایره دزردالو دترخو زړو سوزول شوی مغزپه واسلینو کې لیوړی کړ؛ په پرې شوي ټپ یې کېښود، پرې کړشوی پوست یې هم په هماغه تاویز ډوله کڅوړه کې واچوه ؤچې مخکې له مخکې په هغې کې د دروازې پوټکی، دسپـې سپَل غوټه، خوساوزه، بادبرک، دګوچ تاراو اووه خڅلي اچول شوي وولـه سپیني مشهدۍ روپۍ سره یې په مرغلین تار کې د کوچني په پښه کې واچول.

دماشوم له دواړو تخرګیولاندې یې خپلې منګولې ښخې کړې هغه یې لکه څکالی دخانک څخه پورته کړښي خواته یې په څلور قاطه برستین تخت کېناؤ خانک یې په بل مخ واړؤ په ټولو کوچنیانو او اوراغلو کسانویې چارمغزاو پتاسې وویشلې خپله برخه یې په هماغه دسمال کې وتړله او جیب ته یې کړه دکورنی هرغړي ته یې بېل بېل ګُل او مبارکي ورکړه خپله کُلانه او شکُرانه یې واخیسته او دپرهېزانې له ښودلو څخه وروسته لاړ...!

د ماشوم توب عجیب یاد وي دماشوم ماغزه دسپین کاغذ په څېر دکرکې، غم او غوسې څخه پاک وي د ژوند دهرې پېښې او کار تمثیل او تقلید پرته دښوونکي څخه کوي فطرتَـایي دهرې پېښې لیدوته تلوسه وي خوله دې سره سره ښه او ورتحلیل کولای نه شي دسُنتي دمراسمو لومړی پړاو پای ته ورسید دماشومانو خولې خوږې شوې په خوشحالۍ سره لاړل. دسُنتي دجشن، ختم او خیرات...! دغرمې ډوډۍ، غوښې، شولې، دخلکو؛ ګڼه ګوڼه او نوردکلي او کوڅې دماشومانو او وړو لپاره زیات خوښوونکي او دپام وړؤګرځېدل دشپې له خوا ساز اومېله، دساز اوسندرو په منځ کې



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دټوګواو ټکالوځانګړی پروګرام، بیا چوب بازي ټول دهېرې وړنه ؤ په دې شپه دکلا په انګړ کې د سازیانو له پاره ځای جوړ شوی ووغټان او مشران په کټو ناست ؤ کوچنیان په څپره او باموکې په پروړو او ټانټو سپاره ؤ دکلي خلیفه هم سندرې وکړې دده په آوازکې دنورو ډېروسندرو ترڅنګ د نغارو په کړنګاکې دا سندره ښه لګېده:

زمـونږه کِسب چا ړه و بـیاتـي ده ** نــن سُـنــتي ده نــن سُـنــتي ده

دسندرې همدغه برخه دماشومانو هم خوښېده ځکه لدې سره سم دکوروالا او خپلوانوله خواپیسې شیندل کېدې دسازغږ دشپې په چوپتیاکې دلاندې سین دڅپو له ښکالو سره ګډېده او ترلرې سیمو پورې رسېده؛ سین هم خپله شوباده په کلي خپره کړې وه چې زړونه یې په وجّد او مستۍ راوستل. ساز په ټول خوند لکه دژوند خوږې شپبې پای ته ورسید هرڅوک خپلو کورونو ته تلل نږدې ګاونډیان چې دخپلو اولادونو سره راغلي وو یویو په خپله مخه لاړل زموږ دېوال شریک زنډی خان چې دمیرمن او بچیانو سره راغلی ؤ ترټولووروسته ولاړ.
زنډی دموټرومستري ؤ دنېکو او ښواخلاقود لرلو له کبله په ټول مالت کې په هرچاګران ؤ، ده په لږ ښه شان کورکې چې ګراج او وجره یې هم لرله ژوند کاوه ده یوفولکس واګون موټردرلوده، موټریې تل په غم او ښادۍ کې د خلکو په خدمت کې ځغلاوه څرنګه چې دی خپله مستری ؤموټریې تل چالانولو ته تیار، سلف او سوچ!
چا ویلي: شپې ورځې به وي یاران به نه وي دا ژوند هم عجیبه ننداره ده، ژوند لکه د ارهټ منګوټي شپه او ورځ یوه په بلې پسې راولي خو ډکې له ښادیواوغمونوڅـخه.
دمني مازیګر ؤ پېغلو او ښځوهرمازیګر له ګودر څخه منګي ډکول، څه ښه وخت ؤد چا منګی به چناري ؤ دچاهم غمی داره سره او شنه! نجونې او ښځې به په مینه او ګډې اوبو پسې تللې ...
دزنډي لور په کور کې دخپل کوچني ورور سره پاتې وه په کور کې تېره چاړه پیدا کوي ، موریې چاقو تل په ساله کې ایښوده خوخدایزده چې نن څنګه ترې لاندې پاتې شوی ؤ جلکۍ چاقو په لاس کې نیسي کله چړې ته ګوري او کله خپل **کوچني ورورته!** د ذهن په انجړه تنیسته کې د سُنتي د ورځې په پېښو ګډوډ ګُذر کوي سمدلاسه دکوچني ورور دسنـتېدونکي پوست پرځای ترپوستکي لاندې څوکه دخرب سره پرې کوي چې ماشوم د مرګ په حال کې په وینو کې لیت پیت په کوکارو ګوري له ډېرې وېرې او ترهې ځان پټوي...
زنـډی له کارڅخه له ډېرې ستومانۍ لکه رنډ ی ځنګېدلی راځي چې چاقو او ماشوم په وینو ککړ ګوري ټک د واره په هر څه پوهېږي په ډېره بیړه وروستۍ هڅه کوي ماشوم په غېږ کې اخلي روغتون ته دوړلو له پاره موټر چالانوي، دموټر په خېز سره د دوهم ځل له پاره چیغې او کوکارې اوري چې ګوري لوریې دموټرترټیرلاندې اوزوی یې د موټرپه سیټ کې خپلې ارواوې

حق تعالی( ج) ته سپارلې دي. سترګې بې وینې نیسي هرڅه ورته مېږي مېږي ښکاري...
دې شیبه کې یې مېرمن منګی په اوږه چې له ډېرې ستړ پا څخه ستمېده دکور په انګړ راننوزی ؛ زنډی هغه یوازې په آوازپېژني؟ او دقهر وار پرې کوي، دغه دغوسې ډک ګوزاریې په تسي برابرېږي چیغې او کوکارې لاپسې زیاتېږي.
دټولنیزژوند بهیر له پېښو او ستونزوډک وي خوپېښې دژوند ناخوالې او **ټوپیرونه په ګـوته کوي!؟**
که دمور له بې پروایې وبولو یا دلورله بېځایه تقلید او یا د مېړه له بېړې اوغوسې څخه !خوکار له کار څخه تېرؤ.
سبا درې غبرګې ځنازې دوه کوچنیان اویوه یې د مورله کورڅخه ووتلې
خو زنډي په ټول پاتې ژوند کې ددوی قبرونه ونه پېژند ل!؟ ځکه هغه حافظه له لاسه ورکړې، په کلیوګرځي او دا بیت یې په مغزوکې انګازې کوي او تل یې له ځان سره زمزمه کوي:

نن سُـــنتي ده + نن ســـُنتي ده + نن سُـــنتي ده

تل یې ځان په بد حال او جامې شـلېدلي وي سروکال یې دجاموټرانګې د درونټې شمال وهي.، دکلیوماشومان یې زوروي په کوڅوکې ورپسې ډلې ډلې منډې وهي او ورته وایي : « زنـډیه ماما زنډی د زانګي لکه رنډی !؟» خود مشرانو له خوا ورله په دېرو او وجروکې ځای او خواړه ورکول کېږي او دیو غم زپلي انسان په توګه یې درناوی کېږي.
زنـډی ! اوس دماشومانوله دې بیت څخه هیڅـکله نه زورېږي چې ورته وایي:
زنـډیه ماما! زنـډی دزانګي لکه زنـډی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ